هفته نامه
آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
شنبه، د رمضان المبارک ٦ مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال #۴۳

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست




# سرلیکنه

پیاوړی اقتصاد د یوه هېواد پرمختګ تضمینوي؛ نو کولای شو چې د پرمختګ اصل یې وبولو. په نړۍ کې به ډېر کم داسې هېوادونه وي چې د افغانستان په څېر طبیعي زېرمې، بشري ځواک، د کرکېلې له پاره پراخې دښتې او وړ هوا ولري، خو بدبختیو او بدمرغیو ددې هېواد پر دې ټولې شتمنۍ خاورې اړولې، اقتصاد یې ویجاړ او مالي سکټور ته یې درانه زیانونه اړولي دي. په هېواد کې په تېرو شاوخوا څلورو لسیزو کې مستحکم او مرکزي حکومت نه دی راغلی، د بهرنیانو په ملاتړ راغلو حکومتونو بیا د ملي ګټو پر ځای خپلې شخصي ګټې پاللې او د هېواد د اقتصادي ودې او له کړکیچ څخه د هېواد ایستلو له پاره یې هېڅ ګام نه دی پورته کړی. ولې کله چې د ۱۴۰۰ لمریز کال د زمري په ۲۴ مه نېټه اسلامي امارت د دوهم ځل له پاره واک ته ورسېد، جګړه ختمه او په سیاسي لحاظ د واک جزیرې ړنګې شوې او متمرکز نظام اساس کېښودل شو؛ خو په ورته وخت کې د نړیوالو له لوري پر اسلامي امارت بندیزونو او د افغانستان سیاسي انزوا بیا یو څه ستونزې او ننګونې راوټوکولې. اسلامي امارت له دې خنډونو او نړیوالې بې انصافۍ سره سره پر دې وتوانید چې په سیاسي لحاظ د ګاونډیو او سیمې له یو شمېر هېوادونو سره خپلې ډیپلوماتیکې اړیکې ټینګې کړي. دا مهال په بېلا بېلو هېوادونو کې لسګونه سفارتونه او نمایندهګۍ فعال دي. ددې ترڅنګ یې د اقتصاد محوره سیاست په غوره کولو سره اقتصادي کړکیچ هم تر ډېره بریده مهار کړ.

واک ته له رسېدو سره سم اسلامي امارت وتوانید چې د اقتصادي پرمختګ په برخه کې خپل یون پیل کړي. تر دې مهاله په زیاترو اقتصادي سکټورونو کې زیاتې لاسته راوړنې درلودلې دي. موږ دلته یوازې د ۱۴۰۲لمریز کال اقتصادي لاسته راوړنو ته اشاره کوو. په دې کال کې په بانکي سکټور کې ځینې پرمختګونه شوي دي لکه د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ثبات، د انفلاسیون د کچې را ټیټېدل، د هېواد لرې پرتو سیمو ته د بانکي خدمتونو رسول او داسې نور. د پانګونې برخه هم غښتلې شوې ده. په همدې کال کې لسګونو لویو بهرنیو او کورنیو کمپنیو په مختلفو سکټورونو کې د شاوخوا ۱۰ میلیارده او ٦٥۴ میلیون ډالرو پانګونې لپاره چمتووالی ښودلی، چې ځینو یې عملاً پانګونه پیل کړې. دغه راز د برېښنا په برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي. د یو شمېر بندونو پاتې چارې او د ځینو نورو بیا د جوړېدو کارونه پیل شوي دي. د کاسا زر په څېر سترې پروژې چارې د پیلېدو په حال کې دي او ددې ترڅنګ د لمریزې او بادي برېښنا د تولید ځینې پروژې تر کار لاندې دي. د سوداګرۍ برخه کې هم لاسته راوړنې شته چې ښه بېلګه یې په ۱۴۰۲لمریز کال کې د صادراتو کچه ده چې شاوخو دوه میلیاردو ډالرو ته رسېږي. د ترانزیټ په برخه کې اسانتیاوې او د رېل پټلۍ شبکې پراختیا نورې هغه برخې دي چې د سوداګرۍ په برخه کې یې لاسته راوړنې بللی شو. د کانونو، زېربنا، ترانسپورټ، انرژۍ، مخابراتو، صنعت او کرنې په سکټورونو کې د لسګونو پروژو چارې پیل شوې، چې په پایله کې یې لسګونو زرو هېوادوالو کاري فرصتونه برابر شوي دي. دا په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې دي چې کولای شي اقتصادي پرمختګ نور هم ګړندی کړي او په لنډه موده کې اقتصاد پر خپلو پښو ودروي.

## د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان د بهرنیو چارو وزیر په مشرۍ له راغلي لوړ رتبه پلاوي سره وکتل



۲ مه صفحه

## کمیسیون تدارکات ملی ۱۴۲ پروژۀ مختلف و نیمه‌کاره را به ارزش حدود ۴۰ میلیارد افغانی منظور کرده است




۳ مه صفحه

## د افغانســـتان او شمالي ګاونډیو هېوادونو سوداګریزو او ترانزیتي اړیکو ته کتنه



۴ مه صفحه

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبيکستان د بهرنيو چارو وزير په مشرۍ له راغلي لوړ رتبه پلاوي سره وکتل



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمريز کال د کب مياشتې په ۲۲مه نېټه د ازبيکستان د بهرنيو چارو وزير محترم بختيار سعيدوف په مشرۍ له راغلي لوړ رتبه پلاوي سره د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې د ليدنې پر مهال د سياسي، اقتصادي او سوداګريزو همکاريو او همدارنګه سيمه‌ييز اتصال په اړه هراړخيزې خبرې وکړې.

د دغه ليدنې پر مهال د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د افغانستان او ازبيکستان د ولسونو ترمنځ ګډو مشترکاتو ته په اشارې سربېره وويل، دواړه هېوادونه په مختلفو برخو کې مشترکې ګټې لري، چې اوسمهال يې د ترلاسه کولو لپاره ښه زمينه برابره شوې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، د افغانستان اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنۍ سياست تعقيبوي چې اساسي تمرکز يې پر سيمه‌ييز اتصال دی او دې موخې ته د رسېدو لپاره د سيمې او په ځانګړې توګه ازبيکستان همکارۍ ته اړتيا لري.


محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او ازبيکستان له لارې د ترانزيټ کچې زياتېدو، د سوداګريزو اړيکو پراختيا، اوسپنې پټلۍ شبکو غځولو، افغانستان کې پر پانګونې، افغانستان ته د برېښنا لېږد، ټرانسپورټي او ګمرکي ستونزو له منځه وړلو او همدارنګه په ازبيکستان کې افغان ځوانانو ته په بېلابېلو برخو کې د لوړو زده کړو زمينې برابرولو په برخو کې د دواړو لورو پر ګډې همکارۍ ټينګار وکړ.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اوبو مديريت او کرنې پراختيا ته په اشارې سره وويل، د هېواد په شمال کې د قوش‌تېپې کانال د افغان ولس د لسيزو ارمان و، چې متأسفانه د اوږدمهاله جنګونو او بې ثباتيو په نتيجه کې موږ ونه توانېدو چې له آمو سيند څخه د آمو سيند د حوزې د نورو هېوادونو په څېر معقوله او مشروع استفاده وکړو. د اسلامي امارت په راتګ سره د دغه کانال کارونه پيل شوي او افغانان خپل حق ترلاسه کوي. په دې اړه بايد هېڅ ګاونډی اندېښنه ونه لري.

د ازبيکستان د بهرنيو چارو وزير محترم بختيار سعيدوف د افغانستان او ازبيکستان دوستانه اړيکو ته په اشارې سره وويل، هېواد يې چمتو دی چې له افغانستان سره د خپلو سياسي او اقتصادي اړيکو پراخولو په موخه په نږدې راتلونکې کې په تاشکند کې د افغانستان اسلامي امارت سفير ومني. ښاغلي بختيار سعيدوف زياته کړه، ازبيکستان ته له آمو سيند څخه د افغانستان د استفادې درېځ ارزښت لري او هېواد يې چمتو دی چې د دغه کانال په تخنيکي برخه او همدا راز د اوبولګونې د عصري سيستمونو په عملي کولو کې له اسلامي امارت سره همکاري وکړي. همدا راز نوموړي وويل، ازبيکستان چمتو دی چې په افغانستان کې له ډېرو سکرو څخه د برېښنا د توليد په برخه کې پر پانګونې سربېره، د سوداګرۍ کچې زياتېدو او د سيمه‌ييز اتصال په موخه د افغان - ټرانس او برېښنا په برخه کې مهمې پروژې عملي کړي.

د يادونې وړ ده چې په راغلي ۳۰ کسيز لوړ رتبه ازبک پلاوي کې د ياد هېواد د کابينې يو شمېر غړو او د خصوصي سکتور استازو حضور درلود.

## اقتصادي معاونيت مياشتنۍ (آبادي) اتمه ګڼه چاپ شوه




د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت مياشتنۍ (آبادي) اتمه ګڼه چاپ شوه. په دې ګڼه کې د اقتصادي معاونيت له لوري په بېلابېلو برخو کې د ترسره شوو فعاليتونو په اړه راپورونه خپاره شوي. د موضوعاتو له مخې اساساً څلور برخې لري: په لومړۍ برخه کې د اقتصادي کميسيون او ملي تدارکاتو کميسيون د غونډو؛ په دوهمه برخه کې د لويو پروژو د پرانيستې، مهمو کنفرانسونو او په اقتصادي برخه کې د لويو تړونونو په اړه خبرونه خپاره شوي. په درېيمه برخه کې له محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره د کورنيو او بهرنيو استازو د ليدنو او همدارنګه د محترم ملا صاحب د سفرونو راپورونه؛ په څلورمه برخه کې د مهمو اقتصادي موضوعاتو په اړه مقالې خپرې شوې او د مهمو اقتصادي موضوعاتو په اړه د ليکل شويو مقالو خلاصه په انګليسي ژبه راوړل شوې ده.

## ۱۴۰۲ خورشیدی؛ کمیسیون تدارکات ملی ۱۴۲ پروژهٔ مختلف و نیمه‌کاره را به ارزش حدود ۴۰ میلیارد افغانی منظور کرده است



- حدود سه میلیارد افغانی در قرارداد پروژه های منظور شده از طریق داوطلبی آزاد صرفه جویی شده؛
- همه پروژه های منظور شده از طریق داوطلبی آزاد به اعلان سپرده شده است؛
- در پروژه های منظور شده فرصت های کاری برای هزاران شهروند فراهم شده؛
- با توجه به انکشاف متوازن ولایت ها و نیاز شهروندان به پروژه های مهم اولویت داده شده؛
- شفافیت در روند تدارکات پروژه های منظور شده به میان آمده؛
- و همچنان در تطبیق پروژه های منظور شده به تولیدات داخلی اولویت داده شده.

**محل اجرای پروژه ها**

ولایات مختلف

**سکتور ها**




**تمویل کننده**

امارت اسلامی افغانستان

ریاست الوزراء اقتصادی معاونیت
The Deputy PM for Economic Affairs Office

## ۱۴۰۲ خورشیدی؛

### دستاوردهای امارت اسلامی در سکتور تجارت

در سال ۱۴۰۲ سطح تجارت افغانستان افزایش چشمگیری داشته است. امارت اسلامی در این زمینه تسهیلات زیادی به میان آورده که در اینجا به عنوان نمونه به برخی از آنها اشاره می کنیم:



۱. استفاده از راه های بدیل تجارتی؛
۲. افزایش صادرات؛
۳. ایجاد اتاق های تجارتی؛
۴. کاهش تعرفه مواد خام؛
۵. برگزاری نمایشگاه های ملی و بین المللی؛
۶. معافیت جریمه های مالیاتی؛
۷. ارائه خدمات ۲۴ ساعته در گمرکات؛
۸. گشایش دهلیز های هوایی؛
۹. بازسازی شاهراه ها؛
۱۰. ایجاد لابراتوار های معیاری برای کنترول کیفیت اجناس؛
۱۱. عصری نمودن گمرکات و ارائه خدمات الکترونیکی؛
۱۲. ایجاد تسهیلات در ترانزیت؛
۱۳. توسعه و بازسازی شبکه های خط آهن؛
۱۴. معافیت جریمه های گمرکی؛
۱۵. ایجاد بازار های تجارتی مشترک با کشور های همسایه در سرحدات؛
۱۶. توسعهٔ شهرک های صنعتی؛
۱۷. توسعهٔ روابط تجارتی با کشور های همسایه و منطقه؛
۱۸. جلب سرمایه گذاری داخلی و خارجی در بخش های مختلف؛
۱۹. رسیده گی به موقع به مشکلات تجاران و صنعتکاران؛
۲۰. وتأکید بر استفاده از تولیدات داخلی در ادارات امارات.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۷۱,۳۰؋ | ۷۱,۴۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۴۵؋ | ۲۴۵؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۲۹؋ | ۱,۳۰؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۷,۷۱؋ | ۷۷,۸۲؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰.۷۷؋ | ۰.۷۷؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۶۰؋ | ۸۶۱؋ |
| ۱ | انگليسي پوند | ۹۰,۷۷؋ | ۹۰,۹۰؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۹,۰۱؋ | ۱۹,۰۴؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۴۱؋ | ۱۹,۴۴؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۹۱؋ | ۹,۹۲؋ |



هفته‌نامه
آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو
په برخه کې د ریاست الوزراء
اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

# د افغانستان او شمالي ګاونډیو هېوادونو سوداګریزو او ترانزیتي اړیکو ته کتنه

لیکوال: امان‌الله حنیفي



## سریزه

په طبیعي ډول منځنۍ اسیا د نفت او ګازو له پلوه ډېره غني ده، داسې چې د نړۍ په سلو کې ۹ سلنه انرژي دوی چمتو کوي . خو برعکس بیا جنوبي اسیا د انرژۍ په برخه کې تر ډېره په کور دننه طبیعي زېرمې نه لري. منځنۍ اسیا؛ جنوبي اسیا ته د انرژۍ په برخه کې د خپلو صادراتو لپاره اړ ده، چې د افغانستان له خاورې د ترانزیټ په موخه استفاده وکړي. افغانستان په جغرافیوي لحاظ د منځنۍ او جنوبي اسیا هېوادونو ترمنځ پروت دی. دغه موقعیت افغانستان ته په سیمه کې ځانګړی اقتصادي، ترانزیتي او سوداګریز ارزښت ورکړی او د سیمه‌ییز اتصال رامنځته کولو په برخه کې یې رول تر نورو هېوادونو ارزښتناک دی. د افغانستان له لارې د منځنۍ او جنوبي اسیا د ترانزیټ زمینې په برابرېدو سره به سیمه‌ییز اقتصاد پیاوړی شي، سیمه به سیاسي ټیکاو ترلاسه کړي، افغانستان به خپل اصلي موقف ته ورسېږي او چټکه اقتصادي وده به ولري.

د سیمه‌ییز اتصال رامنځته کېدو په موخه د افغانستان او منځنۍ اسیا د اړیکو پراخولو او پیاوړي کولو لپاره دوه اړخیزو او څو اړخیزو سوداګریزو او ترانزیتي همکاریو ته اړتیا ده. موږ به دې مقاله کې پرې لنډې خبرې کوو.

## د افغانستان او منځنۍ اسیا ترانزیټ

د منځنۍ اسیا هېوادونو له جملې قزاقستان، ترکمنستان او ازبکستان د نړۍ په کچه د نفتو له سترو تولیدوونکو هېوادونو شمېرل کېږي. قزاقستان بیا پر نفتو سربېره د ډېرو سکرو پربمانه زېرمې لري او د خصوصي سکټور پر مټ نږدې ۷۰ سلنه برېښنا له همدې سکرو تولیدوي . په دې توګه دغه هېوادونه په کوردننه تر خپلې اړتیا د زیاتې انرژۍ د تولید وړتیا لري، چې پر افغانستان سربېره یې جنوبي اسیا هم په ارزانه بیه پېرلی او واردولی شي. د وارداتي برېښنا په برخه کې په دغه برخه کې تاپ، توتاپ او کاسا زر د منځنۍ اسیا مهمې پروژې دي. تاپ د ترکمنستان، افغانستان او پاکستان د وارداتي برېښنا ګډه پروژه ده. د دغه پروژې له لارې افغانستان ته د انرژۍ ترڅنګ په کلنۍ ډول د برق د انتقال لسګونه میلیون ډالر د حق العبور پیسې هم ورکول کېږي .

کاسا زر بله هغه پروژه ده چې د افغانستان له خاورې په تېرېدو سره د قرغزستان او تاجکستان له اړتیا ډېره ۳۰۰ میګاواټه برېښنا افغانستان او ۱۰۰۰ میګاواټه برېښنا پاکستان ته رسوي. دغه پروژه له ۶ ولایتونو څخه تېرېږي، چې په تطبیق سره به په کلنۍ ډول افغانستان ته ۶۵ میلیون ډالره ترانزیتي فیس ورکول کېږي .

د وارداتي برېښنا په برخه کې د منځنۍ اسیا له لویو پروژو څخه توتاپ هم د یادونې وړ ده. د دغه پروژې له لارې به بیا له ترکمنستان-ازبکستان-تاجکستان څخه افغانستان او پاکستان ته ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا صادره شي . د دې پروژې له لارې به هم افغانستان په کلنۍ ډول په میلیونونو ډالر ترانزیتي فیس او یوه اندازه برېښنا ترلاسه کوي.

منځنۍ اسیا د نفتو په پرتله د ګازو له اړخه ډېره د پام وړ ده. په ټوله منځنۍ اسیا کې د انرژۍ دغه ماده شتون لري، خو په لومړي سر کې ترکمنستان، بیا قزاقستان او په دربیم نمبر کې ازبېکستان راځي . ترکمنستان د منځنۍ اسیا د ټولو هېوادونو ۷۰ په سلو کې ګازي زېرمې لري او د منځنۍ اسیا یوازینی هېواد دی چې شاوخوا ۷ نیم زره کیلومتره د ګازو نللیکې لري. جنوبي اسیا په ځانګړې توګه پاکستان او هند ته د ترکمنستان د ګازو د لېږد په برخه کې ټاپي تر ټولو مهمه پروژه ده چې د افغانستان له خاورې تېرېږي. د ټاپي پروژې په تطبیق سره به افغانستان هر کال ۴۰۰ میلیونه ډالر حق العبور به ترلاسه کړي.






ټاپ، کاسا زر، ټوټاپ او ټاپي د ګازو او برېښنا په برخه کې هغه مهمې پروژې دي، چې په تطبيق سره يې د افغانستان او منځنۍ اسيا اقتصادي او سوداګريزې اړيکې پياوړې او پراخې کېدلی شي. د دې پروژو په تطبيق سره به سيمه‌ييز اتصال رامنځته او افغانستان به په ميلياردونو ډالرو ترانزيتي ګټې په ترلاسه کولو سربېره د خپلې اړتيا وړ نفت، ګاز او برېښنا په ارزانه بيه او ثابت دوام سره ترلاسه کړي. د دې پروژو په تطبيق سره به په افغانستان کې د پام وړ کاري فرصتونه هم ايجاد شي، په تېرېدونکو ولايتونو کې به پانګونې ته زمينه برابره شي او له مخې به يې د خلکو د ورځني ژوند کچه هم لوړه شي.

افغانستان د منځنۍ اسيا د برېښنا، ګازو، سيخ ګول، اوسپنيز ګاډر، زراعتي او صنعتي توليداتو لپاره هم مصرفي مارکېټ دی او هم سويلي اسيا په ځانګړې توګه پاکستان او هندوستان ته د صادرولو لنډ او ارزانه مسير دی. برعکس بيا منځنۍ اسيا په ځانګړې توګه ازبکستان د افغانستان وچو او تازه مېوو او کاني ډبرو د پروسس او نړيوال مارکېټ ته د رسېدو يوه خوندي او مهمه لاره ده. په دې برخو کې دوه اړخيزې همکارۍ به نه يوازې د افغانستان او منځنۍ اسيا اقتصادي ګټې خوندي کړي؛ بلکې د نړيوال تجارت پام به هم ځان ته راواړوي.




## د افغانستان او منځنۍ اسيا سوداګري

افغانستان د منځنۍ اسيا هېوادونو له جملې څخه له ازبېکستان، ترکمنستان او تاجکستان سره سرحد لري. افغانستان د دغو بندرونو له لارې منځنۍ اسيا ته تر ډېر تازه او وچه مېوه، جوس، تالک ډبره، کچالو، پياز، طبيعي بوټي او هنجه صادروي او له هغه لوري بيا اوړه، غنم، غوړي، نفت، ګاز، برېښنا، ماشين‌الات او يوشمېر نور توکي واردوي. د ۱۴۰۲ لمريز کال په لسو مياشتو کې د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره نږدې يو نيم ميليارد ډالره سوداګريزه راکړه ورکړه شوې ده .

قزاقستان او ازبکستان د منځنۍ اسيا دوه هغه هېوادونه دي، چې تر ډېره د صنعتي او زراعتي محصولاتو د توليد له مخې خودکفايي ته رسېدلي، نو اړتيا ده، چې دغه دواړه هېوادونه د خپلو صنعتي او کرنيزو محصولاتو لپاره مصرفي مارکېټ پيدا کړي، چې د اوس لپاره افغانستان د دوی د محصولاتو د لېږد او پلور ښه مارکېټ دی. قزاقستان د افغانستان بازارونو ته د ازبکستان، ترکمنستان او يوه اندازه د تاجکستان له ترانزيتي لارو غنم، اوړه، غوړي، مې او دغه راز برېښنايي وسايل، زراعتي ماشين آلات او ساختماني وسايل او توکي صادروي. دغه راز قزاقستان د افغانستان وچو او تازه مېوو او زعفرانو د پلور ښه مارکېټ دی.

منځنۍ اسيا ته د افغانستان د صادراتو زياتوالي په موخه د دواړو لورو ترمنځ ګډې هڅې رواني دي، په همدې موخه په تېر نږدې وخت کې په ترکمنستان، ازبکستان او قزاقستان کې د دواړو لورو ترمنځ ګډ نندارتونونه جوړ شول، چې په پايله کې يې د سلګونو ميليونو ډالرو په ارزښت تړونونه لاسليک شوي. منځنۍ اسيا ته د صادراتو زياتوالي په موخه د دواړو لورو لخوا په ګمرکونو کې د پام وړ اسانتياوې رامنځته شوې، د ملي سوداګرو د ويزو ستونزې حل شوې، امنيتي تدابير ټينګ شوې، په سرحدونو کې ګډ بازارونه جوړ شوي او همدارنګه سوداګريزې لارې رغول شوې دي.



### پایله

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو او په هېواد کې د سرتاسري امنيت او خپلواک نظام په راتلو سره د سيمه ييز اتصال رامنځته کېدو لپاره ښه زمينه برابره شوې. دا اتصال به د منځنۍ او جنوبي اسيا ترمنځ د افغانستان په واسطه رامنځته کېږي، چې له نېکه‌مرغه افغانستان اوسمهال له دغه فرصت څخه استفادې ته بشپړ چمتو شوی. د سيمه‌ييز اتصال په رامنځته کېدو سره به د افغانستان او په ځانګړې توګه منځنۍ اسيا سره سوداګريزې او ترانزيتي اړيکې پياوړې او پراخې شي. منځنۍ اسيا به وتوانېږي چې د افغانستان له لارې نفت، ګاز او برېښنا جنوبي اسيا ته وارد کړي او افغانستان ته به ارزانه بيه د نفت، ګازو او برېښنا پر ورکړې سربېره به کلنۍ ډول په سلګونو ميليونه ډالره ترانزيتي فيس هم ورکړي.

همدارنګه به افغانستان د منځنۍ اسيا له خاورې په استفادې سره وتوانېږي چې خپل صادرات په لنډه او ارزانه بيه د اروپا بازارونو ته ورسوي او له هغه لوري د خپلې اړتيا وړ توکي وارد کړي. په دې سره به افغانستان په سيمه کې خپل اقتصادي موقف را ژوندی کړي او چټکې اقتصادي ودې ته به بستر برابر شي.